ناول: د پیریانو ناوې.

لیکوال: نامعلوم.

ژباړونکې: خواجه زۍ.




Ketabton.com

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِیمِ

زما نوم میلاد دی زه اوس د څلویښت کالو یم او زما کار نظامي دې، زه په تهران کې اوسیږم او د ماسپښین لخوا خپل د یوه ملګري د موبایل په پلورنځي کې کار کوم د کار لپاره نه بلکې زیاتر د وخت تېره ولو لپاره ځم. زه په یوه پوځي کورنۍ کې زیږیدلی یم زما پلار یو سخت مزاج افسر وو او هغه هېڅکله په جادو،تعویذ، فال او دا شان خرافاتو باور نه درلود او ما هېڅکله په خپله کورنۍ کې دا رقم موضوعات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ندې لېدلې او زه هم په همدې نظامي مزاج کې را لوی شوی یم. خو ما له ماشومتوبه عجیبه خوبونه لیدل، داسې خوبونه چې زما ډېر خپلوانو به د هغه په اورېدو زما مور ته ویل چې ستا زوی به په راتلونکې کې خامخا یو عالم او نیک سړی شي..

خو زما د عمر په پورته تلو د دې خوبونه رنګ او بوی هم څه بل شانتې شو، د مثال په توګه ما به لومړې داسې خوبونه لېدل چې یو څو نفران چې ښایسته څهرې لرې او د عالمانو پشان پګړی په سرونو دې زما په سر لاس تېره وې او زما سره په بېحد محبت او مینې خبرې کوې حتا تر دې حده چې یوه شپه مې خدای پر خوب ولېد البته مخامخ نه بلکې داسې چې هغه خوب کې لکه یو څوک چې راته وایې خدای ستا سره خبرې کوې! خو ما د هغه خوب هېڅ جزیات او خبرې یاد کې ندې چې څه یې وویل او څه نه! خو کرار کرار زما د خوبونو لړۍ تغیر وخوړو او داسې شول چې ما به د راتلونکې د صحنو خوب لیده!

او هغه هم یو ځل نه، دوه ځلې نه، بلکې په اونۍ کې څو څو ځلې خوبونه مې لېدل داسې خوبونه چې زما په شاوخوا کې خپلوان او خلک چې کوم کار کوې ما به هغه په خوب کې لېده داسې چې هغه خوب به د څو وروځو وروسته تعبیر کېده او هغه کار به همغه شان چې ما په خوب کې لېدلې وو په ربښتیا ژوند کې هم عملې کېده...

بیچاره زما مور تل به په ورختا او اندیښمن انداز زما خوبونو ته غوږ نېوه تر دې چې کرار کرار د دې خوبونو منفي اغیزی زما پر ژوند ښکاره شول، ځکه ځینې بې کفایته او جاهل خلکو پر ما د فال بین او جادوګر ګمان وکړو او له سهار څخه به تر ماښامه زموږ د کور مخه نیولې وه او زما کورنۍ ته به یې مزاحمت کاوه او هغوې به یې پعذاب کول دوي به په زوره سره غوښتل چې زه د دوی د راتلونکي په اړه دوی ته خبر ورکړم او له بل خوا زما پلار چې یو نظامې سړی وو او ددی رقم کارونو او خبرو څخه یې کرکه درلود تل به ما ته په غوسه وو او خبری به یې راته کول، ددې ټولو څنګ کې یو بل موضوع چې بېحد یې زه غمژن کولم هغه دا وه چې دسیمې ماشومان به زما څخه ډاریدل او له ما سره به یې لوبې نه کول..

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره دا کارونه او خوبونو زما پر ژوند بد اثر وکړو داسې چې د زیات اضطراب او وېرې له امله به ما د شپې خوب نه کوو او که خوب به مې هم ولید نو مور او پلار ته به مې نه ویل.دې اضطراب بې خوبې، او وېرې ماته عجیب سردرد را واچو داسې چې زه یې ډاکټرانو ته تلو او درمل خوړلو ته مجبور کړم...
هغه کیسه چې زه غواړم تاسو ته وکړم هغه زما د لومړې پیښه په رښتېنې نړۍ کې د داسې موضوعاتو سره وه...

څو میاشتې زما د عجیب غریب خوبونو د لېدو څخه تېر شوې وه او زه لږ، لږ مخ پر ښه کېدو وم. د ژمې رخصتیانې را ورسېد او په ښونځي کې مورې ته هم رخصت را کړې شو، یوه ورځ د کلی څخه زمورږ خپلوانو زنګ را وواهه او مورږ ته یې د یو خپل د واده بلنه راکړل او ویې ویل چې مورږ لږ مخکې لاړ شو، تر څو هلته یو څو ورځې اضافه پاتې شو او د نکریزو او د ناوی کور په جوړه ولو کې هم ګډون وکړو، زما پلار هم ومنله او پرېکړه پر دې وشول چې زه او مور مې لاړشو او پلار مې څو ورځې وروسته زمورږ پسی راشي ځکه چې هغه ډېر رخصت نشو کولی. مورږ په بس کې کېناستو او د کلي پخوا راون شو، دا یو لوی کلی وو چې د ښار څخه ډېر لرې و او د ښار له تاسیساتو او هوساینو څخه یې یوازی بریښنا درلوده او بس...

دا کلی ډک وو د انګورو په طاقونو او د توت پر ونو او تر کوم ځایه چې غورږ کار کاوه د حیوانات لکه غوا، خره، پسه، چرګان او مرغانو غږونه اورېدل کېدل...
په هغه کلی کی ورځې یې ډېرې ښکلې وه خو شپې ډېرې وېروونکې وې زه شاوخوا د دولس کالوم وم او زه د کلي په هغه ماحول او ښکلا کې هک حیران وم. لومړۍ او دویمه شپه په خوښۍ تېره شوه او په دویمه ورځ د ناوې کورنۍ مشران راغله او زمورږ د کور مشران یې خپل کور ته دعوت کړل ترڅو د واده د مراسمو همغږې او مدیریت لپاره خبرې وکړي، د شپې په ۸ بجو په بیړه ډوډۍ وخوړل شوه او مشران تیار شول چې لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورې ماشومان او د ناوې چې زهرا نومېده او د هغې ملګرې چې شهربانو نومېده په کور پاتې شو. مورې ټول ماشومان همزولي وو او تر ټولو مشره زمورې ناوې او د هغې ملګرې وه. نیم ساعت له مشرانو له تګ نه و تېر شوی چې د کلي برق لاړه. کور په بې ساري ډول تیاره شو او زهرا په لوړ آواز وویل: هر څوک چیرته چې ناست دي، هیڅ حرکت مه کوئ تر څو چې زه څراغ چالان کړم.
څو دقیقې وروسته شهربانو وویل: څه شوې زهرا څراغ روښانه کړه.
زهرا په غصه وویل: تیلدان خالي دی، باید له زیرزمینې نه تیل راوړم.
شهربانو وویل: پرېږده، راځه بهر کېنو ترڅو د تېرېدونکو موټرانو د څراغونو نه ګټه واخلو.

په دې مهال کې له طویلې نه د غواوو غږونه پورته شول او له زیرزمینی نه چې د پسونو طویله وه، د دوی هم غږونه پورته شول. زهرا وویل: تیارې په دوی هم تاثیر کړی دی! ماشومانو یو بل ته لاسونه ورکړې ترڅو په کراره حیاط ته لاړ شو او دروازې ته ورسو.
ما ډېر بد احساس کاوه او ټول وخت مې داسې احساس کاوه چې دا صحنه مې په خوب کې لیدلې او داسې ښکارېده چې څه به پېښ شي. په مجبورې مې د یو ماشوم لاس ونیو او یو پر بل پسی د قطار په شان حیاط ته لاړو.د غواوو او پسونو ګډ غږ او حالت د ویرې زیاتوالی راوست. څو دقیقې تېرې شوې او شهربانو د ماشومانو پام بلې خوا اړولو لپاره مورې ته وویل:

شهربانو- ماشومانو ټول د واده یوه سندره په ګډه ووایست.
او خپله یې هم په لوړ غږ او لاس وهلو سره سندره پیل کړه او مورې هم ورپسې پیل وکړو، خو د ماشومانو په آواز کې د ویرې لرزښت په بشپړ ډول احساسېدلی شو. د سندرې په مینځ کې ناڅاپه زهرا وویل: شهربانو، هغه کومه رڼا ده چې په کوټې کې ښکارې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زهرا پوښتنه د سندرې بندېدلو لامل شوه او مورې ټول د کوټې په مېنځ کې یو مستطیل شکل لړونکی رڼا ته چې د تلویزیون اندازه یې لرله او پرته له کوم اضافي شعاع نه ښکارېدله ځېر شو. شهربانو وویل: لکه چې برېښنا راغلې ده، او دا د ګاونډیانو د کور د رڼا انعکاس دی.
لا د شهربانو خبره نه وه ختمه شوې چې رڼا په حرکت شول، او په هماغه وخت کې د غواوو غړونه هم زیات شول. مورې په حیرت کې په حرکت کونکي رڼا پسې کتل چې په ورو ورو د طویلې پر لور روانه شوه..

مورې همداسې په حېرت باندې د رڼا حرکت ته کتل چې کرار کرار د طویلې خوا ته په حرکت وو، د هغه رڼا په حرکت زهرا د ژبې لاندې د قران د آیتونو پر ویلو پیل وکړو. او مورې ماشومان هم د ډېر وېرې څخه یو بل ته تر غاړې وتو، هغه رڼا زمورې د څنګ څخه تېره شوه او طویل ته ننوتل او د هغه د ننوتلو سره سم داسې د حیواناتو چغې او بغارې پورته شوې داسې لکه چې مړه کوې یې! په همغه ماشومتوب حال کې د زهرا لمنه مې ونېول او ورته ومې ویل: خاله کوم دعا کوې مورې ته یې هم وښایه ترڅو مورې یې هم وایوو...

خو هغه دومره وېرېدلې وه چې زما خبرو ته یې هېڅ پام نه کاوه، هغې د رڼا خوا ته کتل او ایتونه یې ویل، شهربانو لږ زړه وره وه هغې زمورې د آرام کېدو کوښښ کوو او ویل یې چې هغه رڼا ته مه ګورئ او بېرته خپل شعر ویل شروع کړئ، او د لوبو کول او شیرنې راکولو په بهانو یې غوښتل مورې آرام کړې خو زمورې یوه سترګه د شهربانو و خوا ته وه چې یو شعر یې په لوړ غږ ویل او بل سترګو مو د هغه منحوس رڼا پر خوا...

شهربانو زهرا ته وویل: ته ناوې یې د بیلګې په توګه دا څه حرکات دي چې ته یې کوې؟ او ټول ډاره وې، تا خو کوم درې سرې شیطان ندې لیدلی چې داسې وېرېږې او دا کارونه کوې.
د شهربانو په کلک لهجه زهرا هم لږ پر خود شوه او په دروغجنه مسکا یې وویل: ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو لږ څه پعذاب کولې هېڅ نشته وګوری زه د ړنا پسې ځم.
د زهرا د ګام اخیستلو سره ړنا بېرته د غوجلې خوا ته لاړه او د حیواناتو چغې بیا پورته شوې چې زهرا په همغه وېرېدلې خندا وویل: ومو لېدل هغه ړنا زما څخه وګاره شول او وتښتېدل په دې کې هیڅ شک نه لرم چې یو څوک موږ ته د څراغ په واسطه غواړې و ډار کړې..
شهربانو وویل: راځئ چې زموږ کور ته لاړ شو.

د هغې په خبره موږ سمدلاسه د شهربانو کور خوا ته لاړو، د هغوې کور د زهرا د کور څنګ ته وو شهربانو څراغ روښانه کړو او زموږ د مزاج بدله ولو لپاره یې موږ ته شېرنې راکړل او خپل د کورنې عسکونه یې راوړل ترڅو د هغه په کتو زموږ فکر او خیال د هغه راپېښ شوی موضوع څخه واړوی، او تر څه برېده کامیابه هم شوه... نیم ساعت تېر شوی وو چې د بام له سر څخه د شیانو د ماتولو غږ راغی دا ځل خبره نوره هم جدي شوه او په همدې وخت کې موږ چیغې وهل پیل کړل د زیات وېرې څخه زموږ د ماشومانو په مېنځ کې یو ماشومه بې هوښ شول او د هغې په راولېدو زموږ چغې نور هم زیات شول، شهر بانو په چټکۍ سره موږ ټول په یوه کونج کې راټول کړو

او د هغې ماشوم په مخ یې اوبه وروشېندل، په ډېر دعا او الله الله ویلو سره ماشومه په هوش راغله او په همدې وخت کې سمدستي برېښنا هم راغله زهرا ژر ټلویزیون چالان کړ او غږ یې ورڅخه پورته کړو ځکه هغې غوښتل د تلویزیون د غږ په پورته کولو زموږ فکر د بام د سر د مات کېدونکو غږونه څخه واړوی، زما تر اوسه په یاد دې چې په تلویزیون کې د غېږ نیوونکو لوبه پیل وه،موږ په یوه کونج کې ناست وو او زموږ پام د تلویزیون پرته هر څه ته و، ناڅاپه د کور دروازه خلاصه شوه او د شهربانو مور او پلار کور ته راغلل، د هغوې په لېدو لکه موږ ته نرۍ راکړې ویې داسې خوشحاله شو او د زیات خوشحالې څخه مو په ژړا پیل وکړو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهر بانو پلار په خپل ښکلي کليواله لهجه په حيرانۍ پوښتنه وکړه: څه شوي؟ شهربانو هم ورته کيسه وکړه. پلار يې وويل: زه د بام سر ته ځم چې وګورم څه کيسه وه.

مور يې هم ورپسې لاړه،څو دقيقې وروسته، د شهربانو مور په بېړه لاندې راغله او په کليوالې لهجه يې يو څو جملې وويل او خپل ګوتې د حيرت او وحشت په انداز وچيچلې او بيا يې په سر لاس وواهه. مورې لا د هغې د حرکاتو په حيرت کې وو چې د شهربانو پلار هم د دې ننداري برخه شو هغه په لاسونو کې څو د اس پښې او د يوې نانځکې سر درلود چې په مخ يې په قلم يو څه ليکل شوي و، خو زه نه پوهېدم چې څه يې ليکلي دي!

د شهربانو پلار پر شهربانو چيغې کړې او ويې ويل: دا څه دي چې زما په کور کې دي؟ دا کوم بې شرف دلته غورځولي دي؟
بېچاره شهربانو حيرانه وه او خدای و قران يې ګواه نيوله چې روح يې هم له دې خبرو خبر نه و. زه او زهرا هم د هغې خبرې تاييدولې. په پای کې د شهربانو خبرې او زمورې شهادت د هغې پلار او مور لږ ارام کړل. مور يې يو تور دستمال راوړ او هغه عجيب شيان يې په دستمال کې کېښودل او لږه مالګه يې ورسره ورکړه او خپل مېړه ته يې وويل چې دا شيان په دښته کې خښ کړي.او په غصه يې مورې ته وويل چې کورونو ته لاړ شو. په ويره او لړزه زهرا کلی په دروازه کې تاو کړل او مورې ټول ورپسې کور ته لاړو. پرته له دې چې د غوجلې او زيرزمېن خوا ته وګورو، په بيړه کور ته ننوتو.

څو دقيقې لا نه وې تېر شوې چې دروازه بيا خلاصه شوه. کله مې چې وليدل مور مې او څو نور خپلوان مو راغلي دي، نو سمدلاسه خپل د مور خوا ته لاړم او د هغه په غېږ کې مې ځان واچوه او په ژړا مې ترې غوښتنه وکړه چې بيرته کور ته لاړ شو. په ياد مې دي چې دومره مې وژړل او زاری مې مور ته وکړل ترڅو شپه هلته تېره نه کړو او په همغه نيمه شپه کې روان شوو د کور خوا ته چې مور مې حوصله خراب شوه او چيغه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور- بس کړه، غلې شه راته ووایه چې چا درته څه ویلې چې داسې ژاړې؟
د مور په چیغه مې ځانته راغلم او د پېښې بیان مې پیل کړو. ما کیسه کول او نور ماشومانو او زهرا د سرونو په خوزولو سره زما خبرې تایید کولې..

یو د خپلوانو ښځه چې په هغه کلي کې یې ژوند کاوه زما مور ته وویل: دوي ریښتیا وایي دا سیمه له پخوا څخه درنه سیمه وه او ډېر خلک په دې ځای کې لیوني شوي دي.
مور مې په اندیښنې راوکتل او پداسې حال کې چې زما په سر لاس تېره وو کرار یې وویل: بچیه همدا اوس نشو تللې باید صبر وکړو ترڅو پلار جان دې راشې بیا ډېر ژر ځو اوس مهال یوازې نشو تللی.
ما چې ولېدل د مور خبره سمده او بله چاره نلرو نو خاموش شوم او په همدې حالت کې د مور په غېږ کې مې ځان پټ کړو او ویده شوم...

بله ورځ د شهربانو د خبرو په غږ له خوبه پاځېدم، مور مې چې زما راویښ کېدلو ته پام شو نو سمدلاسه زما خوا ته راغله او راته یې وویل: بچیه ترڅو چې دللته یویوازی هېڅ ځاې لاړنشې هر کار چې دې درلود ما ته ووایه او تل زما څنگ کې اوسیږه سمده گرانه؟
ما د سمده په توگه سر وخوځاوه چې مور مې زما سر خپل غېږ کې ونیوه او ویې ویل: خداې دې دا څو ورځې په خېرو خېرت سره تېر کړې...

کرار کرار ټول د راتلونکي محفل لپاره ځانونه تیاروول پیل کړی وه خو زهرا چې ناوې وه، په یوه گوښه کې ناست وه او یوازې غالۍ یې اوبدله. هر چا چې ورته ویل چې ځان یوڅه سم کړه خو هغې غوږ نه پر نیو یوازې کله نا کله یې ویل: یوه گولۍ راکړه، سر مې درد کوي. د ماښام په وخت کې د مشرانو په بېحد اصرار باندې زهرا کوټې ته ولاړه چې ځان پاک کړي. هر څه په عادي ډول تېرېدل او د تېرې شپې پېښه ورو ورو هېرېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماښام وروسته، ښځو په حوېلۍ کې د خوب بسترې تیارې کړې او سړې د تلویزون لیدو لپاره کوټې ته لاړل. ما د خپلې مور په څنګ کې یو ځای ونیوه. ښځې په خپلو ځایونو کې کېناستلې او پر خبرو یې پیل وکړو، د تېرې شپې پېښه د هغوی لپاره تر ټولو غوره موضوع وه. هر چا خپل نظر ورکاوه او په هغه موضوع کې یې هر برخه په خپله خوښه ډېره یا کمه کوله، او زه پټ په پټه غوږ نیولی وم. داسې کلیمې لکه "پیریان "شیطانان"، "دروند ځای" او داسې نور خبری چې ماته یو ناارامه احساس راکولو، خو د زیاتې تجسس له وجې مې غوږونه نور هم تیز کړل تر څو د دوی له خبرو نور څه ترلاسه کړم. دقیق نه پوهېدم چې څو بجې وې، خو دا مې محسوس کولای شو چې اکثر خلک ویده وو، او پرته له دوه یا درې ښځو نور ټول ویده وو.

لکه څنګه چې ما له پټو لاندې پټ په پټه بهر ته کتل، ناڅاپه مې ولیدل چې هماغه رڼا چې تیره شپه په دېوال راغله، اوس هم ښکاره شوه. هم مهاله هغه کسان چې ویښ وو، دا صحنه ولیده، چې زهرا هم په هغوی کی شامله وه، د یو چا د" یا الله خیر" آواز د نورو خلکو د ویښېدو سبب شو، او په هماغه وخت کې رڼا په تلوار سره زیرخانه ته ولاړه. طاهره میرمن چې د زهرا نیا وه او یوه بوډۍ ښځه وه، سمدلاسه یو کاسه د اوبو ډک کړ او دعا یې پرې ولوسته او اوبو ته یې چوف کړل. بیا یې اوبه زهرا ته ورکړې او ورته ویې ویل: ولاړه شه او دا اوبه د زیرخانه په وره کې واچوه.

تیرې شپې پیښه لا د هېرېدو حال کې وه چې د نن شپې پیښه بیا سبب شوه چې خلکو نور هم و وېرېږي هر چا یو تسبیح په لاس کې نیولی و او دعا لوستله، د اذان وخت راورسېد او ټولو اودس وکړ تر څو لمونځ وکړي. هر چا خپله مسله واخستله او د کوټې په یوه کونج کې په لمانځه بوخت شول. حویلۍ تشه وه او پرته له توشکو او کمپلو بل څه نه وو. زه هم لکه سریښ خپل د مور پسې نښتلی وم، هر ځای چې زما مور تلله زه ورپسې تللم. ټول په لمانځه بوخت وو چې ناڅاپه د حویلۍ د زیرزمینې دروازه یو ټک وکړ داسې لکه چې یو څوک پرې تېرېږي. بیا د حویلۍ دروازه د یو انسان په اندازه خلاصه شوه او بیا په شدت سره بنده شوه. دا صحنه چې هر چا ولیده، خپل لمونځونه یې پرېښودل او شروع یې وکړه چیغې وهلو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ نارینه وو په چټکتیا سره حویلۍ ته منډه کړه او همسایګان، په شمول د شهربانو پلار، هم بهر راووتل.

غالمغال زیات شو او د زهرا مور او پلار، د خپلې عزت د ډار له وجې، خلکو ته کوشش کاوه چې چوپ یې کړي تر څو د دوی د لور په اړه خبرې اوازې خپرې نه شي. په همدغې کړکېچ کې زما پلار د کور دروازه وټکوله او کور ته راننوت او په حېرانه انداز یې د هغه دومره خلکو پر لېدو وویل: ولې په دې وخت کې ټول ویښ یاست؟ او دا ټول خلک دلته څه کوي؟
پلار مې چې کور ته رادننه شو ددی سبب شو چې د پېښې له امله یو څه د خلکو پام واوړي او پر سترې مشې بوخت شی. څو لحظې تېرې شوې، پلار مې زمونږ خواته راغی او د پېښې د علت پوښتنه یې وکړه. مور مې ورته وویل: یو ثانیه لا صبر مه کوه خپل بکس پر ځمکه کې نږدی چې ژر باید کور ته لاړشو په لاره کې به درته هر څه ووایم.

مور مې ددی خبری سره سم کور ته ننوتله ترڅو سامانونو را ټول کړې. د مور په تلو پلار مې زه خپل خوا ته کش کړم او پوښتنه یې وکړه.
پلار- څه خبره ده زویه؟
د پلار په پوښتنه زما د زړه داغ تازه شو او په ژړا مې مخ ور واړو او ومې ویل: پلار دلته بلا راغلې وه...
پلار مې په حېرت راوکتل چې ما ټوله کیسه ورته بیان کړه. پلار مې چې اول کې مې هم ویلی وه یو نظامې مزاج انسان وو او دا خرافات یې نه منل زما ټول خبری رد کړل او ویې ویل چې یو څوک له قصد لري خلک وېره وي، او دا شیان اصلاً شتون نه لري. د کور خاوند هم زما د پلار له خبرو څخه ډېر ګټه واخیسته او میلمانه یې ارام کړل او زمونږ د تللو مخه یې هم ونیوله....

د دې ټولو حالاتو او وېرې با وجود د واده محفل جوړ شو. د ناوې خپلوان د په وېرې او وحشت سره او خپله ناوې په یو ژېړ او پریدلې رنګ سره په مجلس کې موجوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه. زه په داسې عمر کې وم چې هم د نارینه وو په مجلس ته تلم او هم د ښځو مجلس ته. ما په یاد دي چې په ښځو کې دا خبرې وې چې شاید ناوې تړل شوې وي. د دوی په منظور نه پوهېدم چې تړل شوې څه معنا؟ په هر حال واده په ښه توګه پای ته ورسېد، او ناوې او زوم لاس په لاس خپل د نوی کور په طرف روان شول د ناوې او زوم کور د ناوې د مور د کور په شاوخوا وو یعنې هماغه ځای چې مورې میلمانه وو. د محفل نه وروسته د ناوې مور زما مور څخه وغوښتل چې که کېدی شي، له څو نزدې خپلوانو سره شپه په د ناوې کور کې تېره کړي.

تر څو ناوې یوازې پاتې نه شي. مور مې که څه هم زړه کې خوښه نه وه، خو مجبوره شوه چې ومني او زه یې پلار ته وسپارلم او ورته یې وویل:له ځان څخه یې یوه ثانیه هم لرې نکړې.
او خپله یې زما سره ژمنه وکړه چې د سهار مخکې به زما تر څنګ وي. زه او پلار مې خپلوانو کور ته ولاړو او مور د ناوې کور کې پاتې شوه. د زیاتې ستړیا له وجې، همدا چې سر مې بالښت ته ورسېدو، ویده شوی وم سهار د مور او د ترور جانې د خبرو په غږ راویښ شوم. لومړی پوښتنه مې وکړه: موری څه وخت کور ته روانېږو؟
مور مې په یو ناراحته حالت کې وویل: شاید نن ونه شو تللی.

ما چې د تللو لپاره د ساعتونو شمیرنه کوله، د مور خبرې مې حیران کړم. بیا مې پوښتنه وکړه:ولې؟ واده خو ختم شو.
مور مې زما خواته راغله او په غوږ کې یې راته وویل: زهرا لیونې شوې ده.
په حیرت مې وویل: څه؟
مور مې بیا خپل خبره تکرار کړه: زهرا لیونې شوې او روغتون ته یې وړې ده.صبر وکړه چې پلار دې راشي، بیا به وګورو چې څه باید وکړو.

ذهن مې یو دم خاموش شو ما په دې څو ورځو کې خپل د ژوند تر ټولو بد پېښو سره مخ شوی وو او دا خبر تر ټول عجیب او د منلو څخه وتلې خبره وه.له مور څخه مې وپوښتل: موری ولې زهرا داسې شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور په نه ډاډمن لهجه وویل: ځکه چې خپل د مور څخه لرې شوې یو څه وېرېدلې ده.
که څه هم زما عمر کم وو خو بیا هم زه پوهېدم چې د زهرا ناروغي د دې څو شپو له پیښو څخه سرچینه اخلي. د ماسپښین په وخت زهرا په ګډوډ حالت کې کور ته راوړل شوه او هغې یې د انګړ وروستي کوټې ته بوتله. وروسته زوم، د زهرا مور او پلار، او د کورنۍ نږدې خلک کوټې ته لاړل. له څو دقیقو وروسته د زهرا چیغې پورته شوې، او هغې په زوره نارې وهلې چې له کوټې ووځئ او پرېږدئ مې، او داسې نور خبرې. یو له خپلوانو څخه سملاسي یو پیچکاری را واخېست او کوټې خوا ته په منډه لاړو څو دقیقې وروسته د زهرا چیغې خاموشې شوې.

پرته له یو یا دوه کسانو، نور ټول له کوټې راووتل. هر چا بېلابېل خبرې کولې؛ یو به ویل چې پېریانې شوې ده، بل به ویل چې شاید له دې واده څخه خوښه نه وه، او دا رقم د دروغو ځان په لېونتوب وهې. خو له هغه ځایه چې ډېری خلک په دې ټولګه کې د خرافاتو په عقیده وو، پریکړه یې وکړه چې له ګاونډي کلي څخه یو شخص راولي، ترڅو زهرا درملنه وکړي یعنی اصل کې د یو پیری نېونکې پسې نفر واستو.

زما پلار چې د دې رقم کارونو څخه سخت بد راتلل او مخالف یې وو ما ته یې وویل چې یوې خوا ته کښېنو او په مناسبه وخت کې د کور په لور حرکت وکړو. نیم ساعت تېر شو او یاد شوی شخص راغی. یوه بوډۍ ښځه، د کلیوالي ټیکرې او جامو سره او د لوی کڅوړې سره کور ته دننه شوه. ما ځان د ناستو خلکو له مینځ څخه کش کړ ترڅو وګورم دا ښځه څه کوي. ما ولیدل چې هغې یو فلزي کاسه، شمع، او هنداره له کڅوړې څخه را واخیستله، او له خپلې ټېکرې لاندې یې یوه توره دستمال راوویسته او له یوه کس څخه یې غوښتنه وکړه چې هغه د زهرا کوټې ته یوسي. زوم سمدلاسه مخکې لاړ او هغې ښځې ورپسې شوه.

په لاره کې هغې خپل کاسه له حوض څخه ډکه کړه او کوټې ته لاړه. نیم ساعت تېر شو او هغه ښځه بیرته راووتله او په شاوخوا کې یې ګرځېدل پیل کړل. د طویلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیرزمینی، او بام ټول ځایونه یې ولټول. په پای کې بیا زهرا کوټې ته لاړه او هرځای څخه یو څه اخېسته. بیا زموږ خواته راغله او ما ته یې وکتل، او زما نوم یې وپوښت. کله چې ما غوښتل ځواب ورکړم، زما پلار مخکې راغلو او په تروش تندې زه د لاس څخه کش کړم او هغې بوډې ښځې ته یې وویل: نوم یې میلاد دی څه یې کوی؟

بېچاره ښځې سا بنده شوه زما د پلار د جدیت څخه او شاته لاړه او په پټه یې د کور خاوند ته یو څه وویل او بیا بهر لاړه. د کور خاوند زما پلار ته راغی او په نرمه یې په غوږ کې ورته یوڅه وویل چې پلار مې په غوسه یو لفظ پر ویلو پیل وکړو" خدای ورسول ته وګوری موږ پدی کار کې مه راکش کوې." څو کسه راغله او یوڅه یې زما د پلار غوږ کې وویل خو زما پلار همغه یوه خبره کول چې موږ دې موضوع کې مه راکش کوې. په پای کې، کله چې دوی ولیدل چې زما پلار ډېر سخت دی او د دوی خبره نه منې نو هغوی بهر لاړل او د ګاونډي زوی چې زما په عمر و راوړو.

د دې ټولو پټو پټو خبرو اصلی موضوع دا وه چې هغه بوډې ښځې یو څو لیکنې او د نامتو جادو شیان په کور کې پیدا کړې وه او د دې جادو د باطلولو لپاره، حتما باید د یوه نابالغه هلک ادرار(میتیازی) پر هغه لیکنو واچول شې ترڅو د هغه جادو اغېزه له منځه لاړشې...
زما پلار هم په هېڅ ډول په دې ډول کارونو نه عقیده درلود او نه یې هم غوښتل چې زه پکې ګډون وکړم. پلار مې ژر د دې فرصت څخه ګټه واخیسته او د دې په پلمه چې دا ډول مسائل زما د زوی په ذهن منفې اغېزه کوي، موږ یې لخان سره د کور پخوا راون کړو...

د دغې کیسې زه عینې شاهید وم او ما دغه ټوله واقعه خپل پرسترګو ولېدل او بیان مې کړل خو د دې وروسته کیسه چې څه وشول او څه نه؟ زه ورڅخه په کامل او ډاډمن توګه خبر نه یم! یعنی خبرونه مې اوریدل چې مور ته به مې کله ناکله د کلې څخه زموږ خپلوانو زنګ واهه او خبری به یې ورسره کول خو په پوره ډاډ سره زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وروسته داستان نشم بیان کولې چې زموږ د راتلو وروسته څخه پېښ شوی؟ ځکه تر هغې چې زه پخپله هلته حاضر وم، دا درته وایم، ځکه زه باور لرم چې په دې ډول مسائلو کې یوازې پر اوریدلو اعتماد نه شي کیدلی. ځکه یو شمېر خلک یوازې غوارې بېځایه دروغ د کیسې سره اضافه کړي، او زه هڅه کوم چې لېدلو شیانو کیسه درته وکړم نه د اوریدلو شیانو ځکه هسې نه خدای ناخواسته، زموږ خبرې د دروغو رنګ او بوی ونیسي.

***

کاله وروسته د هغه پېښې څخه کله چې زه د ۲۴ کالو په عمر شوم نو ما لږ لږ د ۱۲ مور او د نور خپلوانو د خبرو څخه د زهرا په اړه معلومات درلودل، او پوهېدم چې هغې پدی څو کلونو کې څلور ماشومان نقصان (سقط) کړی خو حالت یې ورو ورو ښه شوی. البته ډېر څه مې د هغې په اړه اورېدلي وو، خو ټول یې د دروغو بوی درلود. په هر حال، د وخت په تېریدو او د ورځو په تېرېدو د زهرا کیسه د خلکو له ذهنونو وتلې وه، او زه هم په دې ډول مسائلو کې د خپلې دلچسپۍ له مخې، خپلې څېړنې او معلومات مې زیات کړې وو. د ډیسمبر میاشت وه، چې ما ته مشر افسر مې یو دوسیه د حل لپاره راکړل چې د هغه دوسي د څېړنې لپاره زه مجبور د ښار څخه کلې ته تللې وایې ځکه دوسیه په همغه کلې باندې اړوند وه.

زه مجبور شوم کلې خوا ته روان شوم او ځکه چې زه یو نظامی افسر وم نو زما ځاې په کلي کې په همغه نظامې چوڼه یا هم پوسته او قرارګاه کې وو خو زه هلته اوسیدلی نشوم ځکه بیحد زما د مزاج څخه خراب ځای وو نو ځکه چې هغه کلې کې زموږ خپلوان زیات وه ما خپل د پلار د ماما زوی اقا میرزا چې د زهرا ماما کېدو زنګ وواهه، ترڅو زما لپاره یو کرایه کور ونېسي ځکه د دوسیي کار تر دوه میاشتو نه خلاصیدو او ما ځکه اقا میرزا ته زنګ وواهه ځکه هغه د همغه سیمې یو نامتو کس و او زما مشکل یې ډیر ژر حل کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ما هغه ته زنګ وواهه نو هغه بېچاره ډېر زما عزت وکړو او راته يې وويل: ست مت پرېږده او زما کور ته راشه.
د دې ځخه مخکې چې زه انکار وکړم هغه بيا وويل: البته که زما کور خپل د راتلو قابل نه بولې نو بيا سمده زه به درته يو بل کور په کرايه ونيسم.
د هغه پدی خبری ما په تلوار د يو ځو تعريفی او بيځايه خبری وکړی خو خلاصه د خبری د هغه په ډېر غوښتنه زه مجبور شوم د هغه خبره ومنم خو يوازې يوه ستونزه وه او هغه دا چې د هغه کور زما د کار لځای ځخه يو ځه ليرې و، خو دومره مهمه نه وه، ځکه ما موټر درلود.

ما خپل کالی او شيان ټول کړل او د کلي خوا ته وخوځېدم، دا هماغه سړک و چې شاوخوا دولس کاله مخکې مې له يوې بدې او توره خاطرې سره پرې تېر شوی وم. شاوخوا د ماښام دوه بجې وې چې د آقا ميرزا کور ته ورسېدم. بېچاره آقا ميرزا ويښ ناست و، تر ځو زه ورسېږم. له ډېرو پوښتنو او ستړې مشی وروسته، هغه زه کور ته دننه بوتلم او يوه ښايسته کوټه يې راته تيار کړې وه. د آقا ميرزا کور د زهرا کور ځخه ځو کوڅې لرې و.

سهار زه وخت د خوب راويښ شوم او ځان مې تيار کړو تر ځو کار ته لاړ شم، کله چې انګړ ته ووتلم نو ومې ليدل چې د آقا ميرزا ښځه او بچيان په حويلي کې مصروف وو، ذغال او منقل يې تيارول چې کورسي ولګوي او د صبا ناری لپاره چای تياري کړي. ما هغوی ته سلام واچاوه او د مزاحمت او رامنځته شوي حالت له امله مې بخښنه وغوښته. ددی سبب چې دوولس کاله وروسته ما هغوی ليدل نو ما هغوی سم نه پېژندل. مريم خاله، د آقا ميرزا ښځې زه خپل د کوچنيانو سره معرفی کړم او د يو يو نوم يی راته واخيست چې د پېژندګلوې په منځ کې ومې ليدل چې دروازه خلاصه شوه او يوه ښځه او سړی دننه راغلل.

ټول سمدلاسه پاځېدل او ښځې ته په غېږو سره ورغلل او په لوړ اواز يې سلام واچاوه. د ښځې له ځېرې ځرګنده وه چې حامله ده او د ټولو دې هومره مينې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ښځې حامله والي لامل و. لږ چې چاپېريال آرام شو، ما له مريم خاله څخه وپوښتل، چې دا ښځه زمونږ د خپلوانو څخه ده؟ مريم خاله په حيرت سره وويل: و دې نه پېژندله؟ دا خو زهرا ده، او دا يې خاوند علي دی.
ما په حيرانتيا زهرا ته وکتل او په حيرانۍ سره مې احوال ترې واخيست. هغې هم زما پشان په ګنګس حالت احوال واخيست، زهرا په همغه ګنګس حالت د مريم خاله څخه ما ته په اشاره وپوښتل چې دا څوک دی؟ مريم خاله وويل: وااا زهرا جانې تا هم ياد ته نه راځې؟ دا ميلاد دی، هماغه چې د واده په شپه دلته د خپلې مور سره ستاسو کور کې مېلمه وو.

زهرا تازه زه وپېژندلم او دا ځل يې له ما سره ډېر تود سترې مشې وکړو او زه يې خپل خاوند ته ور معرفي کړم. ما له هغوی بخښنه وغوښته او ورته ومې ويل چې کار ته بايد لاړشم او نور خبرې به ماښام چې کله راغلم و به کړو، اصل کې زما زياته تلوسه وه او غوښتل مې چې کاش ماښام دوی دلته د اقا ميرزا کور کې پاتې شي ترڅو زه د زهرا کيسه د هغې له خولې واورم چې زما د تلو وروسته څه ورسره پېښ شوی؟ خو له يوې خوا زه خوشحال وم چې هغه روغه وه. ما خدای پامانې وکړل او کار ته روان شوم..

ماښام شو، او زه بېرته کور ته راستون شوم او ما په ټوله لار دعا دعا کول چې زهرا دوي تللې نه وي او هملته وي،کله چې کور ته ورسېدم، زهرا او د هغه خاوند علي لا هملته وه او تللې نه وه، ما هم سمدلاسه مخ او لاس ومينځل او راغلم چې ترڅو د کيسې په سر او بر ځان خبر کړم خو ما چې د هر لوري کوښښ وکړو ترڅو ځان په کيسې خبر کړم خو له هېڅ لارې مې ځواب ترلاسه نه کړ. يوازې پدې پوي شوم چې زهرا حامله ده او وروستۍ مياشت يې روانه ده.

د شپې په پای کې چې کله زهرا او خاوند يې رخصت کېدل، علي راته وويل چې خامخا به د سبا شپې لپاره د دوی کور ته د ماښام ډوډۍ ته ورځم. ما هم ژر ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې زهرا او خاوند یې لاړل، آقا میرزا خپله خبرې پیل کړې او زما د زړه موخه یې راته پوره کړه.

آقا میرزا راته وویل: له واده نه وروسته، زهرا عجیب رفتارونه کول پیل کړل. یو شمېر خلکو ویل چې د ډاکټر سره به یې ستونزه حل شي او نور بیا په دې باور وو چې تعویذ کول ورته ضروري دي. وروسته، ورځ په ورځ د زهرا غږ بدلېده او نارینه بڼه یې غوره کړه. مونږ فکر کاوه چې دا د وروستیو چیغو پایله ده، خو موضوع دلته ختمه نه شوه او کار د کور په ډېرو ویشتلو پورې ورسېد. بې ځایه به له اسمان څخه په کور باندې ډېرې راپرېوتل او میلمانه به په انګړ کې له راتګ څخه ډارېدل.

یوه ورځ مو له قزوینه څخه یو دعا لیکونکی راوست. هغه له ډیرو حرکاتو او کارونو وروسته، یوه د ډبره د انګړ څخه پورته کړ او اسمان خوا ته یې وویشت او له لوړ غږ سره یې دعا وکړه. له هغې ورځې وروسته د ډبرو ویشتل ودرېدل خو ټوله کورنۍ د پېریانو ښکار شوه. میلاد بچې خدای شاهد دی چې رښتیا وایم په رڼا ورځ به بغیر له کوم دلیل څخه د کور شیان حرکت کاوه تر دې حد چې له وېرې څخه مې د څو میاشتو لپاره خپل بچیان د خپلې مېرمنې کور ته واستول.

ما چې دا هر څه واورېدل، خوب یې رانه و تښتوه. تر سهاره پورې مې د هغه خبرو په اړه فکر کاوه. سبا سهار وختي بهر لاړم، مازیګر بېرته زهرا کور ته لاړم. علي، د هغې خاوند، یو ډېر ښه او سخي سړی و. شاوخوا اته بجې دشپې وې چې ومې لیدل زهرا لږ پریشانه ده او خپل پر ځان تاو راتاو کېږي، ما له علي څخه وپوښتل: میرمن زهرا لږ په تکلیف معلومېږي خیرت خو دې؟
علي په کراره وویل: داسې ښکاري چې د هغې یخنې شوې زه زم بخاری ته لږ بوټې راوړم ترڅو ګرمه شې، ان شاءالله ښه کېږي..
ما وویل: دا څه وایې؟ د بخاری په اور ددی ستونزه کله حل کېږي؟ ډېره په تکلیف معلومېږی ښایي درد یې وي او کېدای شي د زېږون وخت یې رسېدلی وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاسېږي چې لاړشو ډاکټر ته اوس لا سر وخت دې.
ما دا خبره وکړل او په تلوار خپل د کورتې خواته لاړم او د موټر کیلې مې راوخیسته خو زهرا منع کړم او ویل یې دا هسی درد دی او په ګرم کېدو ښه کېږم! خلاصه چې زما اصرار او دهغوی دواړو انکار اخیر زه هم خاموش شوم. څه مې ویلې وایې کله چې زهرا خپل نه غوښتل لاړه شې ډاکتر ته؟ کېناستم خپل پر ځای خو بېحد بد احساس مې درلود هر لحظه مې فکر کاوه یو بده پیښه به وشې..
زما اندیښنه د دې سبب شول چې زهرا زما د مخ څخه ځان پناه کړې ترڅو زه ورته هر دقه ونه وایم راځه لاړشو ډاکټر ته..

د ماښام ډوډۍ مې په یو مصیبت سره وخوړل، علی بخاری ته اور واچوه او زهرا د هغه څنګ ته کېناسته ترڅو ګرمه شې او په ظاهره یې کوښښ کو خپل ځان ښه وښایې ترڅو زه ورته څه ونه وایم. ساعت د شپې یوولس بجې شوو او ما د علې څخه اجازه وغوښته ترڅو لاړ شم کور ته خو علې راته په بېحد شرم او خجالت وویل: کېدې شې یو نن ماښام زموږ سره پاتې شې؟
— خیرت خو دې کومه ستونزه ده؟
علې- نه ... نه کومه ستونزه نشته تخو پوهېږې چې دلته کلې دی او موټر په آسانې نه پیدا کیږی او زهرا هم لږ ناروغه ده زه وېرېږم هسې نه نیمه شپه ناروغه شې! که ته پاتې شې ښه به وی ځکه موټر لری.

په زړه نا زړه توګه مې وویل: سمده.
او بیرته خپل پر ځاې کېناستم علی سمدسې یو پنډ نالې راوړل او ماته یې واچوه او یو لوی کمپل یې هم راکړ چې په ځان یې واچوم. د خونې رڼا یې هم کمه کړه او دی خپله او زهرا بلې خونې ته لاړل او دروازه یې بنده کړه. څه موده تیره شوه او ورو ورو مې سترګې درنې شوې او ویده شوم. د چغو په غږ له خوبه راپورته شوم.
سمدلاسه مې موبایل ته وکتل، د شپې درې بجې وې، او د زهرا د چغو غږ ټول کور نیولې وو، په خپل ځای کې کیناستم او انتظار مې کاوه چې څوک راشي او راته ووایي چې څه باید وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې همدې وخت کې علي په بیړه دروازه پرانیست او په اندیښنه یې وویل: میلاده خدای دی خیر درته په نصیب کړي چې پاتې شوې زر پاخه زهرا په بد حال کې ده زر موټر چالان کړه چې ښار ته یې یوسو...
سمدلاسه پاسېدم کورتې مې واغوستل او د انګړ لور ته ورغلم، خو کله چې مې دروازه خلاصه کړه، ومې لیدل چې شاوخوا ۳۰ سانتي وچه واوره پر ځمکه ناسته ده او موټر خوځېدلی نشي. هرڅومره چې مې هڅه وکړه، پوه شوم چې ناممکنه ده موټر حرکت وکړي.

بېرته په تلوار کور ته ننوتلم او علي ته مې غږ وکړو او وضعیت مې ورته وښود. هغه بېچاره هم حیران پاتې شو چې څه وکړي. ناڅاپه یې وویل: میلاد بله چاره نشته، باید عمه ناردانه راولم. هغه د کلي د څو نسلونو لپاره قابله پاتې شوې، ته سمدلاسه په انګړ کې اور بل کړه او تر هغه چې زه قابله راوړم، ته هم اوبه ګرمې کړه.

علي ژر د زهرا کورنۍ ته زنګ وواهه او له مور څخه یې وغوښتل چې د زهرا خور دلته راواستوي چې د زهرا سره اوسیږي. د زهرا خور هم ژر ځان راورسه وو ما هم سمدلاسه یو کوچنۍ بخاری چې کور کې وه راوړل او دیګ مې پرې کېښود او انتظار مې کاوه چې اوبه جوش شي. په کلیوالو کورونو کې انګړ ډېر پراخه وي او د کور لویه برخه یې په انګړ کې وي.کله چې مې په واوره کې قدم واهه او نیمه نظر مې دیګ ته و، ومې لیدل چې یو اوږد قدی ښځه، په کلې والې جامو کې، خپل مخ د یوې ورېې کړکۍ ته نږدې کړی او د کور دننه کتنه کوي.

په لوړ اواز مې وویل: خدیجه خاله ته یې؟
خو هغې ځواب رانکړو ما بیا خپل پوښتنه تکرار کړه او یو څه نږدې لاړم. زما د بوټانو غږ په وچې واورې کې خپور شو. په خدای قسم چې له هغه لوري داسې یخ باد را ته راغی چې ما په هیڅ ځای کې نه و احساس کړی. ناڅاپه یې په یو دروند غږ وویل: ورځه مخکې له دې چې زه خپل سترګې درته وښایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په بشپړه توګه حیران پاتې شوم، د هغې په مطلب و نه پوهېدم نو ومې ویل: خپل سترګې را وښایې؟ ستا پر سترګې څه دي؟ ته څوک یې چې کور ته ګورې؟

کله چې هغه زما د قدمونو غږ واورېدو، نو د دېوال خوا ته لاړه ما غوښتل ورپسې شم خو هم مهاله د زهرا او د هغې د خور چیغې دننه له کوره را پورته شوې. ما په تلوار د کوټې خوا ته منډه کړه او په شدت مې دروازه خلاصه کړه. کله چې دروازه خلاصه شوه، یو تور پیشو بهر راووته او منډه یې کړه او د جوش اوبو ډک دیګ ته ورپریوته. زه چې بشپړ اعصاب مې ګډوډ وو، حیران پاتې شوم چې څه وکړم. ژر مې ځان را ټول کړو او د زهرا خور ته مې وویل: دا پیشو له کومه راغله؟

زهرا خو له سخت درد څخه بې خوده وه، خو د هغې خور وویل: ناڅاپه مې ولیدل چې د تلویزیون د شاه څخه بهر را ووت او د دروازې خوا ته راغله.
دروازه مې بنده کړه او ژر د دیګ خوا ته ولاړم، خو په کې پرته له جوشېدلې اوبو بل څه نه و. سمدلاسه مې اوبه له دیګ څخه لرې ختا کړل او نوې اوبه مې واچولې، چې مبادا کومه ستونزه پیدا نشې، علي راغی او قابله هم ورپسې راغله. ژر مو وسایل برابر کړل او قابله مو کوټې ته واستوله. په یوه مناسب وخت کې مې علي ته کیسه وکړه، زما په خبرو علې داسې راته وکتل لکه چې د هغه په پخوانې زخم مې بیا ځلې مالګه دوړه ولې وي. هغه زه کېنولم او په ستونزه سره یې کیسه وکړه چې په دې وروستیو کې یې ورسره مخامخ شوي و علي ویل:

علې- څلور ځلې مې ماشوم پیدا شو او څلور ځله تر څلوېښتو ورځو ونه رسېده چې بې دلیله به خفه کېدل او مړه کېدل.د زهرا جامې به بې دلیله له وینو ډکېدل او زهرا ټول بدن به ټپ ټپ داغ وو داسې لکه چې یو چا وهلې وي او ټول بدن یې ځاې ځاې له وینو ډک و. څو کلونه مو له دې ستونزو سره تېر کړل تر دې چې یو تعویذ
لیکونکی موږ ته وویل چې پر تاسو یو جادو شوی او هغه جادو د آس په پښو او د نانځکې په سر شوی او که هغه راوړی مشکل به مو حل کیږی، خداې دې خیر ورکړې کاکا اسلم ته(د شهربانو پلار) هغه راته هغه شیان راوړل لکه چې هغه پیدا کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورې هم هغه ویوړل تعویذ لیکونکې ته او هغه هم هغه جادو باطل کړو او د هغه د باطل کولو سره زمورې حالات لږ ښه شو نور زهرا یې نه وهل او نه یې پعذاب کول خوو...

همدی وخت کې د کور څخه د خوشحالې غږ پورته شو، او مورې ته یې زېرې راکړو چې ماشوم پیدا شوو، علې په خوشحالۍ د کور خوا ته لاړو او زه لګیا شوم او د انګړ څخه بخارۍ او دیګ مې ویوړل د حویلی اخیر کونج کوټې ته چې د ګودام او زیرزمینې حیثیت یې درلود بیا مې د لمانځه لپاره اودس وکړو شیان مې په ګودام کې کېښودل، او چې بېرته راغلم نو و مې لیدل چې خاله ناردانه د وینې ډک یو ټوټه پارچه علي ته ورکړل او په کلک لهجه یې ورته وویل: دا دفن کړه.
علي د خاله د لاسه هغه د وینو سره ټوټه واخیسته، خاله دروازې ته روانه شوه چې ووځي چې علي ما ته وویل: په دې وخت کې د خاله یواځې تلل ښه نه ده، زه ورسره ځم.
او بیا یې په کرار غږ وویل: خو تاته یو زحمت لرم که کیدای شي چې د دې ونې لاندې د بیل په واسطه یو ځاې وکینې او دا پارچه په خاورو کې خښه کړې؟

— سمه ده، ګرانه، ته دا د باغچې سره کېږده، زه به یې پخپله حل کړم ته ورځه.
علي د انګړ دروازه وتړله او ولاړې، زه زړه نا زړه وم چې آیا اول مونځ وکړم که دا پارچه خښه کړم؟ اخیر مې ځان سره وویل چې اول باید د علي را سپارلې کار وکړم او بیا مونځ وکړم په همدې تکل بېرته د حویلې هغه کونج ته لاړم چې اضافه شیان پکې ساتل کېدل او د بیل پسې په ګرځېدو شوم، زه تقریبا پوهېدم چې هغه پارچې کې څه دې خو حقیقت دا وو چې ما باور نه کاوه، او له ځانه سره مې ویل چې دا خلک تر کوم حده ناپوه کېدلې شي...

بیل مې راوخیست او غوښتل مې چې د باغچې خوا ته لاړشم چې همغه یخنی چې څو ساعته مخکې مې د هغه خاله په لېدو احساس کړی وه بیا ځلې مې محسوس کړل، دا یخني د دنیوي یخني څخه ډېر فرق درلود، داسې لکه هوا چې زهرجنه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او د وينې اکسيجن ناڅاپه کم شوی وي. تر ټولو ښه توصيف چې کولی شم، همدا دی... ژر مې په ياد شو چې پارچه مې باغچې سره کېښودلې ده. ژر بېرته وګرځېدم ترڅو پارچه را واخلم خو د مخامخ صحنې په لېدو په خدای قسم، دواړه پښې مې پر ځمکه وګندل شوې، او زنګونونه مې داسې رپېدل چې د ولاړېدو پر وخت يې زه لاندې ښويه ولم ژبه مې بالکل قفل شوې وه. هغه شې يا هم کس چې په کامل توګه تور جامې درلود او بېحد اوږد وو او داسې وو لکه په هوا چې ولاړ وې مخ زما خوا ته را وګرځه وو ..... خو ..... خو مخ يې نه درلود يواځې تور دود وو!

زه يې چې وليدم، نو مخ يې رانه واړو او د ځمکې نه تر بام پورې شاوخوا ۶، ۷ متره مسافه ووهله او ټوپ يې وواهه او لاړ. ما لاس په ديوال تکيه کړ او خپل موټر ته تکيه شوم چې په حويلي کې و، چپ لاس مې بې حسه شوی و او له بله لوري مې د سختې وېرې احساس کاوه، خو د زړه له وېرې مې احساس کاوه چې شايد سکته قلبي راباندې راشي څو ځلې مې خپل چپ لاس وخوځاوه او ومې ليدل چې خوځېږي خو هېڅ احساس نه لري! ياد ته مې راغله چې يو څه ګرم اوبه په بودنې کې پاتې شوی وه کله چې اودس مې وکړو نو په تلوار لاړم هغه ګرم اوبه مې خپل پر لاس واچول خو لکه چې هيڅ اغېز يې و نه کړه.

په دې لړ کې مې بيا هغه پارچه په ياد شوه چې باغچې سره مې ايښې وه. په زحمت سره ورپسې وخوځېدم چې ومې وليدل چې "بې ايمانه" پارچه څېرې کړې وه خو دننه شی يې نه دی وړلی. زر مې دا په يوه پلاستيک کې واچوله او په جېب کې مې کېښوده... دومره د زړه د سکته حملې څخه وېريدلی وم چې د لاسونو او جامو وينو ته مې پام نه و. د منډې پيل مې وکړ چې ګوندې وينه په لاس کې مې وګرځي، نه پوهېږم چې دا سم کار و که نه، خو همدا مې په ذهن کې راغلل. حويلي ته د دننه کېدو او بېرته راتګ په دوران کې وم چې علي راغې.

علې چې زما پرېدلې رنګ ولېده نو لومړنی پوښتنه يې د خپل ماشوم او زهرا په اړه وکړه. په داسې حال کې چې ساه، ساه مې وهل و مې ويل: هغوی ښه دي، خو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرستې ته اړتیا لرم.
د سترېا څخه کېناستم او ټوله کیسه مې علي ته وکړه، ورته مې وویل چې څه راسره وشول. علي کرار وویل: میلاد نه مې غوښتل دا کیسه درته وکړم خو مجبور شوم چې درته ووایم، څلور ځله مخکې چې زهرا فارغه شوه، او ماشوم یې پیدا شو ما دهغې نومنه پارچه د هغې د مور په باغچه کې خښ کړ. څو شپې وروسته د زهرا مور په خپل حویلي کې همدا څیز چې تا ولید، ویني. خو توپیر یې د دې ځل سره دا و چې دا ځل یې پارچه نده وړې! خو زه شک نه لرم چې دا ناوړه به بیا راشي.

په وېرېدلې انداز مې وویل: ته و خدای یا دا انجلۍ(زهرا) یو چېرته ویسه یا هم یو څو نفران د دی وسرته راوړه ترڅو هغه ورته زیان ونه رسه وې.
علي په نامېده لهجه وویل: مورِ زهرا یوځل هم یوازی نده پریخودلې، هغه تعویذ لیکونکې چې راوستلی مې و راته یې وویل چې یوازې یوه ثانیه بس ده چې هغه خبیثان خپل کار ترسره کړې.
– علي، دا ولې داسې وشول؟ دا د آس پښې او د نانځکې سر څه کیسه ده؟
علي په همغه غمژن او نامید انداز وویل: راځه لومړې دا خښ کړو، بیا به درته کیسه وکړم..

– ستا په نظر بهتره به نه ویې چې دا پارچه کوم دښت بیابان کې ښخ کړو ترڅو څوک پوه نشې؟
علي- هغه بیشرفان د سایي پشان زمورِ شاوخوا کېدی اوس هم شک نلرم چې همدلته دی او زمورِ خبری آوری، ترڅو چې خپل زهر توې نکړې نه په کرار کېږې.
علي دا خبره وکړل او د درختی لاندی د ځمکې پر کېندلو بوخت شو، او زه هم هملته خپل د لاس په چابی کولو بوخت شوم ترڅو لاس مې ښه شي علي ځمکه وکېندل او د رمز پشان یې وویل: هغه امانت راکړه.
ما هم په کراره خپل د جیب څخه پارچه راوویستل او علي ته مې ورکړو چې تازه مې پام شو چې د کورتې جیب مې په وینو شوې، ژر مې خپل کورتې و ویسته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نل لاندې مې ونېو او همغه په وينو شوې برخه مې ومينځل او په تار مې واچوې ترڅو وچ شي..

چې نظر مې د بام په سر ولګېده چې ومې لېده همغه د تورو جامو کس چې مخ يې د دود پشان وو د بام په سر ولاړ دې او دوه سترګې موږ ته نېولې، د وېرې څخه په بند بند ژبه مې وويل: ع....... عل..... علي...
همدا چې ومې ويل علي هغه د باد پشان غيب شو!
علي په ورختای راوکتل او ويې وويل: څه شوی؟
– علي بيا مې ولېد د بام په سر ولاړ وو.
علي په خندا وويل: لکه چې ته يې زيات خوښ شوې يې چې هر دقه ځان تاته ښايي.؟!
– علي زما سره ټوکي مه کوه چې حالات مې خراب دي...
که کار دې خلاص شوې بسم الله کړه چې لاړشو کور ته مونځ قضا شو.

هغه بيچاره چې زما خراب حالات ولېد نو ژر يې شيان سره راټول کړل، او کور ته لاړو په سل رقم ډار او وېرې مې مونځ وکړو کله چې مونځ خلاص شو علي راته ډېر ټينګار وکړو ترڅو لاړشم حمام وکړم چې شايد لاس مې ښه شي، او واقعا حمام کول فايده وکړل او لاس مې ښه شو کله چې د حمام څخه راوتللم نو د زهرا د ژړا غږ مې واورېد او علي چې د هغې و څنګ ته ناست وو، زما په غږ علی ژر را ووت ژر يې ماته يو پياله چای واچول او ويې ويل: کېنه لږ ارام وکړه ته مې هم په زحمت کړې.
– داسې مه وايه د څه زحمت.. که بېکار يې لږ کېنه او ماته کيسه وکړه ولې دې ژوند و دې حالات ته راورسېد؟

زما په خبره علي پورته شو او ولاړ هغې خونې ته چې زهرا پکې وه، دروازه يې وترله او بېرته راغی او وې ويل: دا خاله ناردونه قابله پوهېږې څوک ده؟
– نه څوک ده؟
علي- دا زما خاله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حیرت مې وویل: د رښتیا خاله؟
علي- هو دا واقعاً زما خاله ده کلونه مخکې، زما مور او خاله ناردونه، چې هغه وخت ځوانه جینۍ وه، د کلي ښځو لپاره د زیږون کارونه کول. خاله د مور د لاس مرستې کوونکې وه او مور به د قابله په توګه ورسره وه. یوه شپه ناوخته زمونږ د کور دروازه وهي او مور مې له خوبه راپاځېږي مور مې به غوسه سره دروازې ته ځي چې ګورې یو نااشنا سړی د کور د دروازی سره ولاړ دې او په بیحد عاجزۍ سره زما د مور څخه غوښتنه کوي چې د هغې ښځې سر ته ورشي چې د زیږون په حال کې ده.

مور مې چې تازه له خوبه پاڅېدلې وه او اعصاب یې خراب شوي وو، په بد حالت ورته ځواب ورکوي، او د تلو څخه انکار کوې خو هغه سړی زارۍ ورته کوي چې که نه راشې نو زما ښځه به مړه شي. مور مې لږ پام کوي او ویني چې دا سړی یې هېڅکله په کلي کې نه دی لیدلی او نه یې پېژني! نو د هغه څخه پوښتنه کوي چې څوک یې؟ هغه سړی ورته وایي چې زه ستا د مرحوم مېړه د دوستانو څخه یم او دلته په دې کلي کې مې څوک نه پېژني، زه د فلان کلي یم او په لارې کې زما ښځې درد پیل کړی.

په پای کې مور مې خپل سامان را اخلي او په زړه نا زړه د هغه ناشنا سړی پسې روانه کېږي کله چې ټاکلي ځای ته رسېږي، ویني چې په یوه ویجاړه ځمکه کې یوه ښځه او دوه سړي ناست دي د زېږون په حال کې؟ خو د هغوی خبرې طبیعي نه ښکاري. مور مې د هغوې پښو ته ګوري او پوهېږي چې څه پېښه ده؟

میلاد خپل د خبرې پر دې ځای کې خاموش شو او زما خواته چې په کامل توجه مې ورته غوږ نېولې وو ګوری او وایې: د هغوې پښې د حیواناتو پشان وه!
په ډار او وېرې مې وویل: پېریان وه؟
میلاد د سر په خوځولو زما خبره تایید کړل او ویې ویل: هغوې مهاجر پېریان وه چې د دې ځای څخه تېرېدل ترڅو بل ځای لاړشې خو لاره کې ښځه مریض شوی وه او زمونږ کلې خوا ته یې مخ کړې وو د مرستې په خاطر او زما مور چې کله پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسې سر خلاص شوې وو نو په بېحد ویېدې او ډار سره خپل کار پیل کړو خو ماشوم مړ زیږېدلی!

او هملته پېریان زما مور ته وایې چې تا خپل په بد اخلاقې او بد نیتې زما ماشوم وواژه نو مور قسم اخلو چې ستا نسل په پرځمکه پرېنږدو او ستا د نسل ماشوم، ماشوم به مړ کړو...
او زما د بدبختې څخه زه خپل د مور یوازینی اولاد یم او مور مې پرته له ما نور ماشوم نه لري، نو د هغوې دا ګواښ زما په برخه شوو..

له کوم ورځ څخه چې ما زهرا ولیدله نو دا منحوس سیوري پر هغې پرېوت او زمونږ ژوند یې داسې تباه کړو...
د دې خبرو په اورېدو او هغه څه چې ما پخپله ولیدل، په زړه کې مې وېره راغله چې خدای مکړه تر هغه وخته چې دلته یم، بیا دا ډول څه ونه وینم؟
خلاصه، ورو ورو مې تیاری ونیو او دفتر ته ولاړم. له هغه وخت چې د کار ځای ته مې حرکت وکړ او تر هغه چې خپلې خونې ته لاړم، زما ذهن له دې پېښو ډک و. یو له همکارانو څخه مې چې تازه سره پېژندلی وه، زما دا تشویش حس کړ او راته یې وویل: کوم څه شوي؟ ډېر ورختا معلومېږې، څو کسانو په اداره کې درته سلام وکړ، خو تا بیخې وا لا نه ورېدو او راتېر شوې ورځخه...

ځان مې یو څه راټول کړو او زړه نا زړه وم چې ورته و وایم او کنه؟ په پای کې مې زړه قوي کړو او کیسه مې ورته وکړه چې وګورم ایا ده ته هم داسې تجربه شوې او کنه؟ زما د خبرو وروسته هغه وویل: اوس چې تا راسره د ریښتینې زړه خپل د زړه درد راسره شریک کړو نو زه هم خپل یوه تجربه درسره شریکه کوم...
دا څو کاله مخکې له یوه همکار سره د خزانې د پېدا کولو ځای لپاره کلې پر کلې ګرځېدو تر دې چې یو ځاې کې د ډېره کندنو وروسته، له خاورې څخه یو شی راووت، چې د هغه څېرې ته ورته و چې تا لیدلی و! مونږ له وېرې دواړه بې هوشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. کله چې په هوښ راغلو نو ومو لېدل چې په یوه بل ځای کې یو او خپل له اصلي ځای څخه ډېر لرې راوړی وو.

له هغه ورځې وروسته هر وخت، هر ځای همغه تور دود د سایي پشان زمونږ سره و، دومره یې مونږ پعذاب کړو چې په خلکو کې حاضرېدل مو ستونزمن شول! ځکه ټول به فکر کاوه چې مونږ لیوني یو. خو هغه څه چې مونږ به لیده، هېچا نشو لېدل، زمونږ کیسه تر هغې دوام وکړ چې یو چا راته د یو شیخ آدرس راکړو! نوم یې شیخ یوهنا وو مونږ نږدې ۱۶ میاشتې د هغه د کور مخکې تلو ترڅو مونږ ته روزنه راکړې خو هغه نه منل، خو د ډېر تگ راتگ وروسته یې ومنل او مونږ ته یې روزنه راکړل د سختو تکلیفونو وروسته مونږ وتوانېدو چې عادي حالت ته بېرته راشو، هغه هم د یو شمېر شرطونو لاندې.

بیایې ما ته مخ کړو او ویې ویل: غواړې یو وخت برابر کړم ترڅو خپلوان دې هغه ته یوسې؟
علې- نه یاره هغه ستاسو پشان داسې کارونه نشې کولې دا رقم سخت تمرینات.
هغه وویل: انسان چې مجبوره شی هر کار کوی، که هغوی هم زیات پعذاب شوی یی نو دا تمرینات کوی شک مه کوه، اوبو ورې زکو ته هم لاس اچوی..

په بې اهمیت لهجه مې وویل: مننه خدای دی خیر در کړی زه به د هغوی سره خبری وکړم بیا به وگورو چې څه کیږی..
هغه هم سر وخوځولو او ولاړو، کوم تمرینات چې ده یادول هغه علی او زهرا زر کاله وروسته هم نه کولې شو او نه یې هم کول! هغوی د کلي خلک وه ولاکه یوه روپی پداسی خبرو ورکړی وایې، ها که تعویذ لیکونکی وایی دا شیخ یوهنا بیا نو سل فیصد ورتلل او پیسی هم ورکول خو دا چی تعویذ نه لیکلی او یوازی د روح د قوت او داسی نور خبری کوی دا کلیوال خلک پدی شیانو باور نلری..

د غرمې خوا ته علی زنگ را وواهه او ویې ویل چې غواړم زهرا ویسم ډاکتر ته ترڅو وگوری د زیږون وخت کې خو کوم ستونزه نده ورته پیښه شوې، اجازه ده ستا موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ویسم؟

— موټر دی ستا بلا واخلې ویسه هېڅ ستونزه نشته، خو وایم اړتیا نشته د هغه ښخ شوی شې سره کوم کس نگهبانې ورکړی هسې نه ویسې؟

علی- نه همغه اول ورځ مهم وو ځکه کله چې وینه تازه ویې د دوي پکار ده، خو کله چې وېنه وچ شې بیا دوی نه وړی ځکه په تازه وینې دوی جادو کولې شې.

— اها... سمده ورځه خو ما بیخبره پرینږدی هر خبر چې وو ماته زنګ را وواهه.

علی- سمده ضرور .

د ماذدیگر پنځه بجې وه چې علې زنګ را وواهه او ویې ویل فلانکې ځاې ته راشه چې یوځای لاړشو کور ته، زه هم ورغلم کله چې د علې کور ته ورسیدو نو آقا میرزا د هغه میرمن او د علی مور او د زهرا مور او خویندی راغلی وه هلته او بیچاره ګانو سم محفل جوړ کړی وو او سپانده( سپیلنۍ) یې د زهرا و مخ ته دود کړل بیا د زهرا پلار د هغی ومخ ته یوه میړه قربانې کړه ترځو شر او بلا د ده د لور او لمسۍ څخه لری شې ټول خوشحاله وه خو د ټولو څهرو کې د خوشحالۍ څنګ کې وېره هم وه! وېره لدې چې دا ماشوم به څلویښت ورځو ته ورسیږي یا که د تېر څلور ماشومانو په شان یو بد برخلیک ورته په انتظار وي.

لاسونه مو پرې مېنځل او بخاری څنګ ته کښیناستو. هر یو له هرې خوا خبرې کولې او مجلس ښه گرم شوی و. په یوه مناسب وخت کې مې علي ته وویل: یو ښه اشنای مې پیدا کړی دی، که خدای وغواړي، زه به زهرا او تا ورسره یوسم چې یو نظر درته وکړي لخیره سل په سلو کې مو ستونزه حل کوي.

علي ډېر خوشحاله شو او له ما یې مننه وکړه. موړ ډوډۍ وخوړه او بیا علي راغی او زما په غوږ کې یې ورو وویل: که شپه همدلته پاتې شم مننه به دې ویې.

ما ځان سره وویل چې شاید د خدای بنده موټر ته اړتیا لري، خو په مخامخ ویلې نشې او شرمېږې نو ځکه وایې چې ته پاتې شه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما لاس په جيب کې وواهه او په غلې توګه مې د موټر کيلي په لاس کې ورکړه او ورته مې وويل: واخله دا دې ستا سره ويې ترڅو ميرمن زهرا ښه کېږي ستا پکار به راشي زه به ترڅو وخته په بس کې لاړشم.
خو علي په تلوار وويل: زه موټر څه وکړم ته پاتې شه چې زړه مې پرتا يو څه ډاډمن دی.
زه چې ازه پوه شوم چې د علی مقصد څه دی نور مې خبره يو پر دوه نکړل او د سر په خوځولو مې د سمده خواب ورکړو، بيا مې اقاميرزا ته مخ کړو او ومې ويل: که ستاسو اجازه وي زه به شپه همدلته پاتې شم.

لکه چې ټولو غوښتل زه د علي سره پاتې شم ځکه اقا ميرزا په خوشحالۍ ومنل او يو د دروغو ست يې لا راباندې ونکړو چې راځه کور ته! يو يو ټول لاړل او يوازې د زهرا مور او خور پاتې شوې. وخت ۱۱ بجې شو او علي ځايونه واچول زه او هغه په يوه کوټه کې څملېدو او ښځې هم په څنګ کوټه کې وې. له ويرې په لرزه لرزه انګړ ته لاړم او بغير لدی چې کوم خوا وګورم تشناب ته لاړم او همغسې په تلوار بيرته کوټې ته راستون شوم، خپل پر ځای څملېدم او د کمپلې لاندې مې ځان پټ کړو.
بېحد ستړې وم نو ژر ويده شوم خو همدا چې سترګې مې پټې کړې خوب مې ولېدو عجيب وه خو خپل هم پوهېدم چې خوب دې؟

د کوټې دروازه کرار، کرار پرانيستل شوه، او سپينه جوړه اغوستې يوه ناوی په ښکلي خيره کوټې ته راننوته، کرار کرار زما خوا ته رانږدې شوه او زما د سر سره يې زنګون وواهه او زما مخ ته مخامخ کښيناستل، اول څو ثانېو کې څهره سمه وه خو کرار کرار د هغې خيره اوږدېده تر دې چې زنه يې دومره اوږده شوه چې زما پر مخ ولږېدل او په يو ډارونکې غږ يې وويل: زه عزرائيل يم، او ستاد روح اخيستلو ته راغلی يم، چمتو يې؟ د ډېر وېرې ما خپل سترګې پټې کړې ويې او ژړا ته نږدې وم چې علي و خوځولم او راغږ يې کړل: ميلاد... ميلاد ... آرام څه شوې؟ ټول دې خبر کړل. خوب ويني پاڅه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تلوار پاڅېدم ټول بدن مې د وېرې څخه لړزېده په همغه حال کې مې خوب ورته بیان کړو چې علې په حیرانۍ سره وویل: خدای دی خیر کړی، هسې نه تا راونیسې پېرې؟
علې دا خبره وکړل او پاڅېدو یو ګیلاس اوبه یې راکړل او بیا بېرته ویده شو. اوبه مې وڅښلې، یوازې په خپل ځای ناست وم، په ځان کې مې وېره وه. یوه نیمه ګړۍ تېره شوه او زه همغسې ناست وم او سترګې مې دروازی ته نیولې وه که څه هم خوب وو خو بېحد یې زه ډاره ولې وم همدی فکرونو کې وم او هغه تیاره کې مې سترګې دروازی ته نېولې وه چې د کوټې دروازه کرار کرار هماغسې پرانیستل شوه، او زما د خوب پشان همغسې ناوې رانوته،زما خواته راغله او بیا یې څیره همغسې اوږده شوه، مخې یې زما خوا ته نږدی کړو او په همغه ډارونکې غږ یې وویل: زه عزرائیل یم، چمتو یې؟

د ډېر ډار څخه مې سترګې پټې کړی وه او زړه کې مې چې هر دعا وه کول خو دومره انرژی می نه درلود چې کومه خبره وکړم یا علې ته غږ کړم، ژبه مې بنده شوې وه اخیر کې په زیات کوښښ یوازی زما پر خوله یو لفظ راغلو چې ما په زوره وویل" یالله کمک" او سترګې مې خلاصې کړې هېڅ څوک کوټه کې نه وه!

دومره مې یاد دې چې د کوټې ګروپ روښانه شو، خو زه نور پر ځان پوې نشوم چې څه وشو؟ په عجیب حالت کې وم نه ویښ وم او نه وېده، داسې نیم هوښیار نیم بې هوښ وم چې لاس کې مې د یو شې تېزی احساس کړه او کرار کرار پر خود شوم سترګې مې چې خلاصې کړې څو نفره مې ولېدل چې زما شاوخوا ناست دي، یو راته پچکاری وهې بل زما فشار ګوری د سترګو په اشاره مې وویل چې ښه یم. ژبه مې نشو څرخه ولې چې خبره وکړم علې یو ګیلاس د لیمو اوبه راوړل او زما شونډو ته یې ونیول ډیر تږې وم او ټول مې وڅښل د هغه د څښلو وروسته لږ مې دمه راسته شوه، او د هغوې وپوښتنو ته چې ویل یې څه وشول؟ او څه خبره وه؟ جواب ورکړو خو په بند،بند ژبه سم مې خبری نشو کولې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار مې خپل همغه ملګری ته چې نوم یې محمد وو مسج وکړو او ورته ومې ویل چې څنګه چل شوی او اداری ته نشم راتلې، هغه هم رانه آدرس وغوښت او ویې ویل د کار خلاصه ولو وروسته راځم عیادت ته دی ترځو هم سم د کیسی په سر او بر خبر شم او هم یو د ملاقات وخت واخلی د شیخ یوهنا سره..
تر ماذدیګر زما حالات ښه نه وو یو دقه به مې داسې یخ کېدو چې لرزی به واخیستم بخو بل دقه به داسې ګرمې وشول چې غوښتل مې یخې اوبه پر ځان واچوم ساعت د ماذدیګر پنځه بجې شوی او محمد زما همکار د کور دروازه وټکول او د علې تر شا د یالله یا الله پر ویلو کور ته را ننوتل، ما خپل ځان لږ راټول کړو او کېناستم، دواړه راغلل او زما و څنګ ته کېناستل او سلام علیک او ستړې مشې مو سره وکړل او هغه زما د حال په لېدو ډیر خفه شو او د ژر ښه کېدو دعاګانې راته وکړل..

علې د چای د راوړلو لپاره پاځېدو، د هغه په پاځېدو محمد راڅخه پوښتنې کول شروع کړل او ما هم په همغه خراب حالات جوابونه ورکړل زما د خبرو د خلاصیدو وروسته محمد په بند بند لهجه وویل: ګوره ... میلاد یو څه وایم خو خفه نشې! د کور صاحب بېحد ښه سړی ښکاری او بیحد هم زما په نظر میلمه دوست او سخی انسان دی خوو ورورە کوم خبری چی تا ماته هغه ورځ اداره کې وکړل او د اوس حالات دی زه فکر کوم چې دا ځای د ژوند کولو لپاره مناسب نه دی او زما په نظر دا ځای دروند دی! هڅه وکړه چې د ادارې لیلې ته لاړ شې، هلته لږ تر لږه امنیت خو لری.

ما په ټوکو وویل: امنیت! داسې خبری کوې لکه چې داعشو زه محاصره کړی یم! محمد- میلاد مه خاندې او دا خبری په ټوکو مه نیسه، که په هغه شیانو پوی شی کوم چې زه پوهیږم نو هېڅکله به دا خبرې په ټوکو وانخلې..

ما د سر په ښورولو تایید ورکړو، خو په زړه کې مې باور نه درلود او فکر مې کاوه چې دا ټولې پیښې یوازې زما د زیات فکرونو نتیجه ده، نور څه نه. په همدې خبرو کې وو چې علې د چای او مېوو سره راغی. هغه محمد ته مخ ور واړاوه او ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل: دا ښاغلي میلاد مو دا څو وخته زیات د پېریانو خوښ شوی او هر دقه راځی ورته، په اداره کې پاملرنه ورته کوئ هسې نه کوم پېری وتښته وي...
او بیا دواړو په قهقهه خندل پیل کړل.

د علي خبرو موضوع ته لار پرانستله او محمد علي ته وویل: علي جان اورېدلي مې دي چې کله کله تاسو هم له دې ډول مسایلو سره مخ کېږئ؟
علي هم پیل وکړ او د دې پیښو کیسه یې په جزئیاتو بیان کړه. نږدې نیم ساعت خبرې وکړې، او په پای کې محمد علي ته وویل: علي جان، ما میلاد ته هم ویلي دي چې زما یو استاد شته چې په دې ډول مسایلو کې ډېر قوي دی، او زه په پټو سترګو هم هغه منم او ورباندی باور لرم، که مناسب دې وګڼل یوه ورځ همغږی شم چې د هغه کره لاړ شې او دهغه نظر واخلې دې کار کې خو کوم زیان نه شته.
علي په حیرانۍ وویل: ولای اتفاقاً زه هم څو تعویذ لیکونکو ته مې مراجعه کړې او دوی یو څه کارونه راته کړي دي، خو لکه څنګه چې تاسو ګوری کوم فایده نده کړې، خو مننه کوم که تنظیم مو کړو یو ځل به هلته هم لاړشو..

محمد- زما استاد داسې سړی نه دی چې د څو نامفهومو کلمو په لیکلو او عجیب و غریب شیانو د خلکو څخه پیسې واخلي. هغه په رښتیا استاد دی، او ...
تاسو به تر هغو پوه نه شئ تر څو چې مو نه وي لیدلی. زه له هغه سره خبرې کوم او خبر درکوم چې په کومه ورځ راشئ.

په هر حال محمد  شاوخوا دوه ساعته ناست وو، او بیا یې خدای پاماني وکړه او لاړ.
د محمد خبرې چې د کور په اړه یې کولې، زما په ذهن اغېز وکړی او ځان مې په سل زور او زحمت سره راټول کړو او له علي څخه مې اجازه واخیسته چې لاړ شم. علي هم وېریده چې دا پیښې بیا زما سره تکرار نشي او له بله خوا یې نه غوښتل یوازې پاتې شب خو اخیر په سختۍ سره یې اجازه راکړه چې هغه شپه له هغوی څخه لاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره چې ژر مې توان درلود له هغه کور لاړم، کوځې ته په رسېدو مې اقا میرزا ولېد چې توره جوړه کالی اچولې او ونې لاندې ولاړ دی، لارې ته مې بدلون ورکړ او د هغه لور ته لاړم او سلام مې وکړ، هغه په ناخوښه بڼه ځواب راکړو لاس مې ورته ور اوږد کړ، خو هغه بې رنګ او بې جان لاس راکړ. ما ترې وپوښتل: څه خبره ده؟ هغه یوازې د سر په ښورولو سره "نه" وویل. زما حال خراب شو، او ما پریکړه وکړه چې هماغه شېبه کور ته لاړشم او خپل شیان ټول کړم او د هغه د کور څخه لاړشم فکر مې کاوه د هغه دا رقم حالات ددی معنا لری چی زما په اوسیدو خپل په کور کی خفه دی.کور ته نژدې شوم، او د کور زنګ مې وواهه او په بېحد حیرت کې اقا میرزا ځواب راکړو.یو شېبه هک حیران پاتې شوم بیا مې زنګ وواهه او هغه یو ځل بیا وویل: څوک یې؟

ځانته مې ویل دا څومره عجیب کار دی! په کراره لهجه مې وویل زه یم حاجی صیب. هغه وویل: اوو، څه عجب چې بلاخره زموږ فقیرانه جونګړې ته راغلې.
هغه دروازه خلاصه کړه او زه دننه ورغلم چې اقا میرزا له خپلو زامنو سره راغی چې ښه راغلاست راته ووایي.
ما ترې وپوښتل: حاجی صیب تاسو اوس د کوځې په سر کې نه ویهغه ځواب راکړو: نه، زه له غرمي راهیسې له کور څخه نه یم وتلې چیرته، څنګه؟
ما وویل: هسې، یوازې یو څوک مې تاسو ته ورته ولیدو...

کرار کرار مې د محمد په خبرو باور راغلو، د ماښام د ډوډۍ خوړلو وروسته سمدستي مې محمد ته زنګ وواهه او له هغه مې وغوښتل چې هر څومره ژر چې شونې وي، ما د خپل استاد کره بوځي.. په سل دعاګانو خپلې کوټې ته لاړم او خپل په نالې څملېدم او د قرآن کریم تلاوت مې پیل کړو، د خدای شکر چې شپه بغیر له کوم ګډوډۍ څخه تېره شوه. بله ورځ سهار وخت راپاسېدم او ځکه چې ما رخصتې اخیستې وه نو غوښتل مې ژر تر ژره هغه شیخ یوهنا ملاقات ته لاړشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو محمد راته لس بجې زنګ وواهه او ویې ویل چې د علي پسې لاړشه او هغه هم خا سره راوخله او فلانکې ځای ته راشه زه هم راځم چې په ګډه استاد ته لاړ شو، د علط د راخیستو وروسته د محمد پسې روان شوم او بیا چې د هغه د شیخ کورته رسېدو شاوخوا د غرمې 12 بجې وه.. ما په ذهن کې یو ډارونکې بوډا چې د باز پشان پوزه به لرې او ډېنګر انسان به وی او اوږده چپنه به یې اغوستې وی داسې یو کس تصور کاوه خو د دروازې دخلاصه ولو وروسته ما ولیدل چې یو 50-60 کلن ښکلی سړی په چټکۍ سره دروازې ته راغی.

او په ورین تندې زموږ ټولو سره ستړې مشې وکړل هغه سم عصری کس وو پطلون او تیشرت یې اچولې وو! د ستړې مشې وروسته هغه د لاس په اشاره موږ کور ته ور وبللو محمد او د هغه پسې علې کور ته ننوتل خو کله چې ما غوښتل چې لاړ شم، هغه زما لاره ونېول او ویې وویل: که خفه کېږې نه ته اوس مه راځه یو څخه انتظار وکړه.
په حیرانتیا او لږ څه ناراحتۍ سره مې ورته وویل: ښه، په سترګو.
هغوی کور ته دننه لاړل او زه تقریباً ۴۵ دقیقې په موټر کې ناست وم تر څو چې یو کس بیا راغی او دا ځل یې زه کور ته دننه بلنه راکړه. ژر مې د موټر دروازه وتړله او کور ته ننوتلم. ما ځان سره زړه کې وویل د دی دومره انتظار بدله خو درنه اخلم یوهنا صیب...

همدا چې زه کورته ننوتلم هغه د یوه شې دود پورته کړو او زما د سر شاوخوا یې وګرځاوه.محمد او علي په یوه کونج کې ناست ول. کله چې لږ دود کم شو، استاد یوحنا ما ته غږ کړ او موږ یوې خونې ته لاړو. هغه په ډېر ښه اخلاقو ما ته وویل: بچېه یوه هیله در څخه کولی شم؟
– هو ولې نه مهربانې.
هغه وویل: زما کینه خپل له زړه څخه لرې کړه،که په لومړې ځل مې اجازه درنکړه چې کورته دننه راشې، یو دلیل درلود چې په پای کې به یې درته ووایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه حیران شوم چې هغه زما د ناراحتۍ احساس څنګه وکړو؟ ورته مې وویل: دا څه خبرې دي، نه زه خفه نه یم.

هغه بیا په هماغه خوش اخلاقۍ سره را وویل: که غواړې چې د ننۍ لیدنې پایله ښه وي، نو دروغ او پټول پرېږده.
ما په ګنګس حالت وویل:ښه، په سترګو.
چې هغه په لوړ غږ وویل: پیل کوو.
هغه زما و سترګو ته ځېر شو او ویې ویل: د پلار نوم دی ... او د مور نوم .... همدا دی؟
په حیرت سره مې وویل: هو همدا دې.
هغه بیا وویل: ستا روح ډېر ځواکمن او پاک ده، ته ډېر خوبونه وینې او زیاتره یې هم ستا په ژوند کې تعبیر کیږي.
– هو، سمه ده.

هغه بیا وویل: یو څو کاله وړاندې یو کس تا ته یو ډالي د انځور چوکاټ، مجسمه، ګوته یا کومه بله زینتي شی درکړې دی چې د هغه شی له امله فلان ... فلان ... پیښې په تېرو وختونو کې رامنځته شوې دي او هر څومره ژر یې له ځانه لرې کړه.
ما ورته وویل: څنګه تشخیص کړم چې هغه شی څه دی؟
ویې ویل: هر ډالۍ چې تر نن پورې درته راغلی دی په پوره دقت سره ورته وګوره. یا به یو دعا په خطي یا چاپي بڼه پکې وي، هغه جادو دی....هر عربي لیک دعا نه ده، همدا فکر ځینې خلک بدبختۍ ته رسولی دی. هر لیک چې د دعا سره تړاو نه لري، باید زموږ له ژوندون څخه لرې شي، حتی د قرآن آیت یا سورت چې په بله بڼه یا د ځینو کلیمو سره بېل شوی وي، د بدۍ او ناورین سبب ګرځي.

زه په حیرانتیا کې پاتې شوم. د دې وروستیو پېښو علت مې وپوښتل چې هغه وویل: که غوښتلی یا نا غوښتلی توګه بې له علم او وسلې څخه د اجنه یا پېریانو سره په تماس کې شې، دا به له پعذابولو نه خالي نه وې،بیا یې په آرامۍ راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته پوهېږې ولې په پيل کې ما ته کور ته پرېښودی؟
– نه، علت يې څه و؟
هغه وويل: د اجنو سيوری دې په بدن باندې ولګيد او کله چې په دروازه کې ما ته وليدی نو يوه بده خبره دې شاته ولاړه وه او ستا له روح څخه يې تغذيه کوله. نو د هغه د تښته ولو لپاره ما بايد يوڅه شيان چمتو کړي وايي ځکه يو څه وخت تېر شو. له دې خبرو سره مې خوله وچه شوې وه او داسې احساس مې کاوه چې ځمکه مې د پښو له لاندې څخه تښتې په اضطراب او وېره مې ترې وپوښتل: آيا د درملنې لاره شته؟

هغه ځواب راکړو: هيڅ ځواک د الله (ج) له ځواک څخه لوړ نه دی، هر شې چې خداې پيدا کړی خپل يی نيست او نابود کولې هم شي ته يوازی هغه ته پناه ويسه، نو که غواړې چې حالات سم شي، له وېرې ځان خلاص کړه او د الله (ج) په ځواک فکر وکړه او له هغه څخه ځواک ترلاسه کړه.
کله چې د هغه خبرې پای ته ورسېدلی نو هغه محمد او علي ته غږ وکړ او هغوی هم دننه راغلل.هغه يو کوچنی ګاز او يو کړايې اوبه، يوه تور چادري او يو فلزي شی چې وروسته پوه شوم د اس د پښو نعل دی راوړل. زه يې په منځ کې کښېناستم او چادري يې هغو دوو ته ورکړه. ما د چادري له لاندې څخه په وېره او لړزه ورته کتل، چې څه کوي. هغه کړايې په ګاز کېښود، او لس دقيقې وروسته چې اوبه يې جوش شوی هغه يې زما د سر پورته راوړ. نور مې نه شوای ليدلی چې څه کوي..

يوازې په پای کې يې وويل: هغه وېره چې ستا په وجود کې وه، له تا يې لرې کوم. اوس منتظر اوسه ترڅو يوه کرېنه درته وښايم چې په کور کې ترسره کړې.
بيا يې علی ته مخ کړ او ورته يې وويل: زه بايد له پېريانو سره اړيکه ټينګه کړم او له هغوی څخه مرسته وغواړم ترڅو جادو له تا څخه لرې کړم. تيار يې چې همدا اوس يې ترسره کړم؟
علي چې سترګې يې له حيرت څخه خلاصه پاتې وه ما ته مخ کړ او ويې ويل: ستا نظر څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې تر هغه هم ډېر حيران وم، اوږې مې پورته وغورځولې او ومې ويل: نه پوهېږم.
استاد چې زموږ اضطراب احساس کړی و، ويې ويل: وېرېږئ مه، که زما خبرې واورئ، هېڅ پېښه به ونه شي.
على ومنل او استاد لاړ چې وسايل چمتو کړي. زموږ په منځ کې داسې چوپتيا حاکمه وه چې بيانول يې ممکن نه و. ما له يوې خوا اشتياق درلود چې وګورم استاد څه کوي؟ او له بلې خوا داسې احساس مې کاوه چې اوس استاد راځي او وايي: پېريان وايي فلان فلان کار وکړی او دی به زموږ څخه پيسی واخلې او دنور پشان به موږ خالي لاس واستوی..

نهايتاً انتظار مو ډېر اوږد نشو چې استاد له بلې خونې څخه راته غږ وکړو،
په دعاګانو سره دننه لاړو او ومو ليدل چې په کوټه کې غالۍ يا کوم فرش نه وو هوار بلکې درې حلقې( کړۍ) چې شاوخوا يې شمعونه روښانه وه د کوټې پر ځمکه انځور شوی وه، شيخ يوهنا وويل: دا حلقې "منډل" دي او د دی کار دا دې چې تاسو د پېريانو د ضرر څخه لری وساتې، زه چې حيران او پريشان پاتې شوی وم، په زړورتيا مې له شيخ يوهنا څخه مې وپوښتل: کولی شئ ډېر وضاحت ورکړئ؟
شيخ يوهنا وويل: هر يو له دې کړيو څخه ستاسو لپاره يو حفاظتي ساحه ده، او تاسو پدی کې کېنې ترڅو زه پېرې حاضر کوم او خبری ورسره کوم تاسو خپل د محافظت لپاره به ددی کړيو څخه نه راوځې.

بيا يې موږ درې واړو ته مخ کړ او په نور جديت يې هم وويل: که هره صحنه چې مو وليدله، هر پيښه چې وشوه، حتی که زه مړ هم شوم، با هم  تاسو حق نه لرئ له دې کړيو څخه بهر شئ. که خدای مکړه څوک بهر ووت، ژوند يې د خپل په لاس کې دی.

دا خبرې زما انديښنه نوره هم زياته کړه، داسې چې ټول بدن مې رپېده،  او له زړه د درزا سره مې ټول بدن پورته ښکته کېدو، په وېره او لړزه هر يو مو خپل دايرې ته ولاړو او کېناستو. يوهنا راغی او موږ يې سم وکتلو چې حلقې کې برابر ناست يو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنه؟ کله چې ډاډه شو چې سم ناست یو، خپله هم خپل ځای ته ولاړ او څلور زانګي( چهار زانو یا هم پلتې وواهه او کېناست.

نیم ساعت تېر شو او سخت چوپتیا په کوټه واکمنه وه. ناڅاپه مې ولیدل چې استاد خپله سر له چپ نه راست او له راست نه چپ ته ښوروول پیل کړل. همداسې نیم ساعت تېر شو او په تدریجي ډول د استاد په مخ د خولې څاڅکي ښکاره کیدل، او د وخت په تیریدو سره د خولې څاڅکي یې د کوټې په کاشیانو غورځېدل. په داسې حال کې چې په استاد مو نظرونه ګنډلې وه ومې لیدل چې ورو ورو له ځمکې پورته کیږي او په عین وخت کې د استاد مخې ته چې کوم پرده و، په خوځېدو پیل وکړ.

هیڅ باد نه و ځکه کوم شمعې چې کوټه کې روښانه وی د هغوی لمبه همغسې وه خو پرده خوځېده داسې لکه چې باد وی؟! دومره عجیبه صحنه وه چې په ناڅاپه ډول مې کینې لاس په لرزه شو او زه مجبور شوم په ښي لاس مې کلک هغه ونیسم، ځکه چې زه په کړیو کې تر ټولو شاته ناست وم، په بشپړه توګه د کوټې ټولو شیانو ته مې نظر و. استاد نږدې نیم متر له ځمکې پورته شوی و. زموږ یوه سترګه په استاد وه او بله سترګه مو په پرده. ورو ورو د پردې شاته یو سیوری ښکاره کیده. زموږ درې وارو پام د هغه سیوري په لور شو. نه پوهیږم دې ته څه نوم ورکړم، پیری، روح، یا سیوری. خو هر څه چې و، په ښکاره توګه څرګند و چې پښې نه لري. استاد په هماغه توګه په هوا کې ځوړند و او په یوه عجیب ژبه یې خبرې پیل کړې.

هر ځل چې د استاد خبرې به ودرېدلې، ځمکه به د یو ډول غږ سره وښورېدله (لکه څنګه چې ځمکه د یوې ماشین سره کنی، او کور وښورېږي). څو ځلې د ډار له شدت نه غوښتل مې پاڅېږم او وتښتم، خو هر ځل د استاد خبرې به مې په نظر کې راغلې او بیا به مې کېناستل او سترګې به مې پټولې. یو څه وخت همداسې دا وحشتناک صحنه روانه وه، تر دې چې نه پوهیږم علي ته څه پېښ شو، چې یو څه وخوځېد. پرته له دې چې څه وګورم یا احساس وکړم، ومې لیدل چې علي په خپلو دوو زنګنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناست و او ناڅاپه په مخ باندې په بیحد کلک انداز په ځمکه ولګېده او بې هوشه شو. د ټک شدت دومره زیات و چې ما احساس کړو چې د هغه کوپړۍ ټوټه شوه.

په داسې حال کې چې لکه په سجده کې ناست و، ومې لیدل چې د هغه له مخ لاندې وینه روانه شوه. له یوې خوا مې غوښتل هغه ته مرسته ورسوم او له بلې خوا د استاد خبرې مې په یاد راتلې. لنډه دا چې انتظار مې وکړ څو وګورم دا کیسه کله پای ته رسېږي. څو دقیقې تېرې شوې او حالت عادي شو. ژبه مې له وچکالۍ د خولې چت ته نښتې وه. په سترګو مې استاد ته اشاره وکړه چې علي ته پام وکړي، تازه لکه چې د استاد پام راغی.سمدستي پاڅېد او موږ ته یې هم وویل چې راشو او د هغه د لاس لاندې ونیسو. هر څه مو وکړل، علي نه خوځېده. ژر مو امبولانس ته زنګ وواهه، هغوی راغلل او علي یې یووړ.

دوه ورځې په ځانګړې پاملرنې څانګه کې بستر و او د سکته مغزی خطر یې و. چې خدای شکر سکته یط مغزی نه وه کړی، یوازې پوزه یې ماته شوې وه او تندی یې خوږ شوی وو څو ورځې وروسته د لیدو اجازه موږ ته راکړل شوه پورته د هغه خونې ته ورغلو او د کیسې پوښتنه مو ترې وکړه. هغه د خپل ماشوم په سر قسم کاوه چې یوه لحظه په خپل ځای کې خوځېد او له شا داسې ټک یې په سر ولګېده چې بې هوشه شو. د هغه شاته دوهلو ټپ له ورایه ښکاریده. د دی کیسې جالبه خبره دا وه چې د علي د جاکټ ښکته برخه سوځېدلې وه. استاد ویل خدای په موږ ډېر رحم وکړ چې مړ نشو. په پای کې علي نږدې یوه اوونۍ په روغتون کې و او رخصت شو.

کله چې د هغه حالت ښه شو، بیا مو وخت وټاکه او د یوهنا صیب حضور ته ورغلو چې د هغه ورځې نتیجه موږ ته ووایي. هغه داسی خبرې وکړې چې زه اړتیا وینم چې کامل یې و تاسو ته ووایم. هغه ویل: ټول مخلوقات لکه ونې، حیوانات، ځمکه اسمان، سپوږمۍ، لمر، ستوري، مرغان، پېریان، فرښتې له انرژۍ ډک دي او احساس لري. هر ډول تکلیف او ازار یا مینه او محبت چې ورته ورسوو، هماغسې زموږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند کې بیرته راګرځي. په ځینو مواردو کې زمور په اولادونو او نسل هم اغیز کوي. پېریان لکه انسانان په ځمکه او زمور په څنګ کې ژوند کوي. که چېرې مور نه شو کولی چې هغوی سره مرسته وکړو یا د هغوی اړتیاوې پوره کړو، نو باید تکلیف هم ورنکړو.

ما ترې وپوښتل، ستا مطلب له مرستې او ازار څه دی؟ په ځواب کې یې وویل:
پېریان د خوارو بوی او زمور د خوارو پاتې شونو څخه تغذیه کوي. هېڅکله د خپلو خوارو هډوکي په بشپړه توګه پاک او صفا مه کړئ، پرېږدئ لږ څه غوښه پرې پاتې کړي او که امکان لري، په خلاص ځای کې یې کېږدئ. پېریان ځانونه د پیشوګانو، موږکانو او نورو حیواناتو په شکل کې ښکاروي او هغه خوري او دعا کوي. ویل یې که تاسو کوم لباس، ټوټه، قینچي یا چاړه په الماری کې ایږدئ، نو په لوړ اواز ووایئ ((له دې شیانو کار واخلئ خو مه یې ککړوئ)). که چیرې تاسو داسې احساس وکړئ چې یو څوک ستاسو نه مرسته غواړي او دا ستاسو په وس کې وي، نو مرسته ورسره وکړئ، ځکه هغه پوهېږي چې تاسو د بیلګې په توګه قابله یا ډاکټر یاست او که مرسته ونکړئ، نو منفي انرژي به ستاسو په ژوند اغیز وکړي.

هېڅکله لاړې، د پوزې ... یا پیشاب یا وینه پر ځمکه مه غورځوئ، ځکه ممکنه ده چې هلته پېریان وي او په بدل کې، ستاسو ټول کالي ککړ کړي.

د علي مور خپل د بداخلاقۍ له کبله چې قصداً یې کړې وه، د یو ماشوم د وژلو سبب شوه او د دې پایله په بده پایله کې د هغه په زوی کې څرګنده شوه. لنډه دا چې د دې خبرو وروسته علي یې خونې ته بوتلو او یو لږ لارښوونې یې ورکړې او بیا یې راته وویل چې د هغه د هویت او پتې په اړه له چا سره خبرې ونکړو، او له هغه ورځې تر نن پورې، استاد یوهنا زما یو له نږدې دوستانو شو، او په ۹۰ سلنه قضیو کې مې د هغه ترڅنګ کار وکړ او نور عجیب او غریب پېښې مې تجربه کړې.

علي او زهرا الحمدلله ښه دي او د دوی زوی اوس په لومړي ټولګي کې دی، یوازې د دوی مور دوه کاله وړاندې وفات شوې. کله چې زه تهران ته راغلم، ټول هغه ډالۍ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ترلاسه کړې وې، و څېړلې تر څو پوه شم چې د یوهنا خبرې رښتیا دي او کنه؟او داسې شیان مې پیدا کړل چې د عقل په منلو نه وه. له یوهنا سره د پېژندنې وروسته زه پوه شو چې د الله کلام د انسانانو لپاره د ژوند د پرمختګ لپاره یو بول سافټویر حیثیت لري خو افسوس، یو شمېر خلک پوه او نا پوه د کلمو ځای ځای بدلوي، او دا سافټویر په یو بد سافټویر بدلوي، او زموږ ژوند هک کوي، چې پای یې تباهي ده.

د پېریانو ناوی د ناول پای.

لیکوال: نامعلوم.

ژباړونکې: خواجه زی.

زموږ د داسی نور ښایسته ناولونو د ویلو لپاره زموږ د تلګرام چینل جوین کړې.

https://t.me/pashtoonovels0

او دا هم زموږ د یوتیوب چینل دی دلته صوتی ناولونه نشر کو.

http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم زما د تلګرام شخصی ایډی.

shuhab09@

او دا هم زما د انستاګرام ایډی.

king.shuhab@

او دا هم د ژباړونکی د جمیل آدرس.

shuhabkhan795 @gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**